مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ٢٠٢٣/١٠/١٩

# نیپو هیرېم عادت یې وګڼم

## که رواني ستونزه؟

ماته خو رواني ستونزه ښکاري؛ خو تاسي ته ځکه حال نه وایم چې شاید د کوم رواني امراضو د ماهر ادرس راکړئ او زه نه د اورېدو مشورو د اوریدلو حوصله لرم، نه د درملو خوړلو علاقه لرم او فیس ورکول خو بیخي راته د زهرو غړپ ښکاري.

نو مجبور یم عادت یې وګڼم. عادت دا دی چې کله نا کله مي کوم بیت یا سندره پر ژبه راشنه شي او بیا رانه غیر اختیاري بار بار ویل کېږي.

شاید د دې علت دا وي چې هغه بیت یا سندره کي زما د خواهشاتو ، خواصو، ارمانونو او یا دروني حالاتو ژوره عکاسي شوي وي. لکه زه چې په همدې ورکې پسي ګرځم او ناڅاپي ور سره مخ شم. او کله چې څوک له خپلي ورکي سره مخ شي؛ نو داسي په اسانه یې بیا کله له لاسه ورکوي.

نن سبا مي دې بیت په خوله کي ځاله کړې او بار بار تري دا الفاظ لکه د مرغیو بچي الوځي را الوځي:

**"هیڅوک دې وا نه وري د حساس فکر په شر**
**غم سبا پیښېږي، زه یې نن احساسوم"**

دغسي احساس لرل واقعا یو شر دی؛ ځکه دوه ځلي سرې زجرویني؛ یو د غم له پېښېدو مخکي او بل یې د پېښېدو په مهال. او څوک چې د زجر ګاللو زغم نه لري؛ هغوی ته خو بیخي دا احساس زهر قاتل دی. ځکه خو پښتانه هم متل کوي : له ږر مخکي پښې مه غځوه!

خو، دا د انسان د وس خبره نه ده.

زه نه وایم چې زه هم لکه د دې بیت د خالق ښاغلي ډاکتر Ihsanullah Darmal په څېر حساس فکر لرم؛ خو دغه بیت مي په زړه داسي لګېدلی لکه همدا چې زما د حواسو خاصیت هم وي.

ډاکټران به دې ډول احساس لرلو ته کوم نوم ورکوي؛ خو دا په ګڼو کسانو کې په مختلفو بڼو شته.
د بېلګې په توګه:

د Doomsday فلم کې یو کرکټر وینو چې د بدن کوم ځای یې ویني شي او هغه خپلو وینو ته وګوري؛ نو په عامیانه اصطلاح اګاهي پرې کېږي چې څه واقع کیدونکي دي.

په هرصورت؛

دا بیت به غیر ارادي تر هغي تکراروم چې کوم بل یو یې جانشین شي.

خدای ج دې مورږ ټول او زموږ ګران هېواد د نن او سبا له غمونو وساتي!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ